# د پښتو ادبیاتو تاریخ لیکل

هره ژبه چي ژوندۍ پاتیږي، یا د نورو ژبو سره سیالۍ ته مستعده کیږي، ښائي چي له هري خوا بشپړه او له هره پلوه سمه او مروجه وي. د دنیا ژوندۍ ژبي چي نن هري خواته ډېر ویونکي او پوهېدونکي لري دغه ترقي او عام مقبولیت دوی وړیا لاس ته نه دئ راوړئ، بلکي د دوی بشپړتوب او ادبي او علمي ښېګڼو او پانګو خلک دې ته رڅکښلي دي چي دغه ژبي زده کړي او په ژوندون کښي استفادې ځني وکړي. ژبه چي علمي پانګي نه لري ادبیات ئي بشپړ نه وي، او د انسانانو د احتیاجاتو د بریا کولو لپاره مستعده نه وي ښکاره ده چي څوک ئي نه خوښوي، او نه هڅه ورته کوي. موږ ته ښائي خپله ملي ژبه چي خپل فطري او طبیعي استعداد لري له هري خوا بشپړه کو، له یوې خوا علمي او ادبي نوي پانګي پکښي ډېري کړو، او له بله پلوه زیار وکاږو، چي د دې زاړه او پخواني ادبیات راټول کړو او د دې ژبي تاریخي استعداد د ادب شوقمنو خلکو ته څرګند کړو. زما مقصد د دې کرښو په لیکلو کښي دا دئ چي پښتانه او د دې ژبي لیکوال او هغه خلمي چي د خپلي ژبي سره د زړه مینه لري دې خواته راوغواړم او د دوی توجه راجلب کړم چي د خپلي ژبي ادبي ذخایر او پانګي سره غونډي کړي. د ژبي د ادب تاریخ لیکل، البته ګران کار دئ، او ډېري پلټني غواړي د پښتونخوا هر ګوټ او ګوښه لیدنه غواړي او

د پښتو ادبي او ورک آثار موندل، او هغه اشعار سره غونډول چي تر اوسه لا د پښتنو په سينو کښي محفوظ دي په دې لاره کښي زموږ يوه مهمه وظيفه ده.

نن له پښتنو څخه په کورو او حجرو کښي د پښتو ځيني نادر قلمي کتابونه او آثار سته، د خارجي مملکتو په موزيمو کښي هم قلمي نسخې سته، د پښتنو څخه خوله پر خوله ډېر گرانبها اشعار رانقل کيږي، د دې ټولو ادبي پانگو ټولول او شرح ليکل د ادبياتو د تاريخ اساسونه دي. لکه زموږ ژبه چي ژوندۍ ده او اوس روزله کيږي او د مليت مينان ئې لوړتيا او خپورتيا غواړي دغسي هم ښايي چي د ژبي د ادب تاريخ وليکل سي او د پښتو تاريخي اصالت خلکو ته وروښوول سي. د ادبياتو د تاريخ په ليکنه کښي ډېر دې لاندي موادو ته ضرورت دئ :

۱. ملي قصې او نقلونه چي پښتانه ئې له قديمه لري، او دغه نقلونه ځيني شعري نارې هم لري.
۲. ملي لنډۍ، او ټکۍ چي په پښتنو کښي خورا ډېري دي او دا يو ډول ملي اشعار دي.
۳. ملي بدلي، سندري، نارې، سېرې بدلي او نور ټوله ډول ډول ملي اشعار.
۴. د شعراو دواوين او غزليات او نور شعري آثار

د دغو ټولو شيانو غونډول د ادب د تاريخ د ليکني لپاره يو ضروري کار دئ، او دا هم ښايي چي د يوه سړي او ټولني له لاسه پوره نه وي ځکه چي يو سړی هري خواته نه سي رسېدلای، د پښتونخوا شاوخوا کښي خو دغه شيان خپاره او شيندلي دي.

د پښتو ټولني دا اساسي وظيفه ده چي په دغو شيانو پسي وگرزي، او وئې مومي، او راټولي يې کړي، او د پښتو د ادب د تاريخ اساسي مواد راغونډ کړي. تر يوې اندازې چي ممکنه ده



دغه شيان موږ راټول کړي او ميندلي مو دي او د کتاب په ډول هم د پښتو شاعرانو او اشعارو يوه تذکره ليکلې سوېده مگر دغه معلومات يوازې د هغو خلکو دي چي دلته رسمي وظايف لر، او په پښتو ټولنه کښي داخل دي. اما دا خو ښکاره ده چي دغه مهمه چاره هيڅکله بې د پښتنو له عمومي مرستي نه تر سره کيږي، او د ټولو پښتنو مرسته او کومک لازم دئ. هر سړی خني ملي بدلي لري، او له لوړو موادو څخه ضرور يو څه ورڅخه سته، يا د کوم شاعر قلمي آثار او د پښتو کتب او دواوين ورمعلوم دي. که داسي پښتانه د پښتو ټولني سره د مليت په نامه مرسته وکړي او خپل معلومات موږ ته راواستوي، نو به دوی د خپلي ملي ژبي لپاره ښه خدمت کړئ وي، او پښتو ټولنه به د دوی زيار بې له مادي غوضه هم پرې نه ږدي، او د دوی د کومک قدر داني به وکړي. پښتو ژبه له پخوانو دورو څخه تر اوسه خانته غوره ادبيات لري، او ډېر شعراء پکښي تېر سوي دي او د پښتو اشعار بېل بېل سبکونه او لاري او ډولونه لري ادبي مکاتب ئې ډېر دي، د دغو ټولو پلټنه او څرگندونه د ادبياتو د تاريخ وظيفه ده. د پښتنو د ادب تاريخ که بشپړ مرتب سي نو دا خو يوازي د شعر تاريخ نه دئ، بلکی د پښتنو علمي رجال، او پخواني ليکونکي، او شاعران او نور مشاهير او نوميالي او د پښتنو د فکر او عقليت مراتب او تدريجي ارتقاء او نور ډېر مهم مطالب پکښي ښوول کيږي او د تاريخ ځيني تياره پلوونه هم رونوي. نو د ادب تاريخ په حقيقت کښي د مليت ټينگوونکی او ښوونکی دئ او ډېري ملي ښېگڼي پکښي خوندي کيږي. ځکه چي دا کار دونه اهميت لري او زموږ مليت ته بشپړ خدمت کوي نو ښايي چي نغښت پښتانه په دې خدمت کښي برخه ولري او د پښتو ټولني سره هر راز مرسته وکړي، هغه معلومات او ذخاير چي د پښتو د ادب د تاريخ په ليک کښي موږ لرو، هغه خو سته مگر د تکميل لپاره ئې د پښتنو کومک ته اړ يو.

دا دئ گورو چي پښتانه په دې ملي مشروع کښي څه کوي؟

او د پښتو ټولني سره کومه مرسته کوي که نه؟ او دا زموږ د بلني ږغ اوري او که نه؟ (۱)

(۱) کابل مجله، ۱۳۱۹ لمريز کال، ۱۱ مه گڼه، ۲۷ او ۲۸ مخونه